خو په څه شي درسره بيعت وکړو؟ ويې فرمايل وفرمايل: «په دې چې د الله عبادت به کوئ او هيڅ شرک به پرې نه کوئ او په پنځه وخته لمونځونو او دا چې اطاعت به کوئ - او يو څه يې له ځان سره پټ وويل: - او دا چې د خلکو څخه به د څه شي سوال نه کوئ

له ابو مسلم الخولاني څخه روايت دی وايي چې: محبوب امانتدار راته وويل، محبوب ځکه دی چې ماته ګران دی او زما لپاره امانتدار هم دی چې هغه؛ عوف بن مالک الاشجعي رضی الله عنه دی. هغه وفرمايل: مونږ له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه، يا اته او يا اوه کسان وو، نو ويې فرمايل: «آيا تاسو له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره بيعت نه کوئ؟» دا په داسې حال کې چې مونږ ورسره تازه بيعت کړی و، نو مونږ وويل: ای د الله جل جلاله رسوله، مونږ خو درسره بيعت کړی دی، بيا يې وفرمايل: «آيا تاسو له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره بيعت نه کوئ؟» نو مونږ وويل: ای د الله رسوله مونږ خو له تا سره بيعت کړی دی، بيا يې وفرمايل: «آيا تاسو له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره بيعت نه کوئ؟» وايې نو مونږ خپل لاسونه وغوړول او ومو ويېل: ای د الله جل جلاله رسوله مونږ له تا سره بيعت وکړ، خو په څه شي درسره بيعت وکړو؟ ويې فرمايل وفرمايل: «په دې چې د الله عبادت به کوئ او هيڅ شرک به پرې نه کوئ او په پنځه وخته لمونځونو او دا چې اطاعت به کوئ - او يو څه يې له ځان سره پټ وويل: - او دا چې د خلکو څخه به د څه شي سوال نه کوئ» او يقينا چې له هغو خلکو څخه مې ځينې وليدل چې قمچينه به ترې ولويده، نو له هيڅا نه يې سوال نه غوښتل چې ورته يې راپورته کړي.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم له يو شمېر اصحابو سره و، نو درې ځلې يې له هغوی څخه وغوښتل چې له هغه سره بيعت وکړي او د ځينې کارونو ژمنه ورسره وکړي: لومړی: يوازې د يو الله جل جلاله عبادت کول د هغه د اوامرو په منلو او له نواهيو څخه يې په ډډې کولو سره او دا چې د هغه سره به شرک نه کوي. دويم: په شپه او ورځ کې د پنځه وخته لمونځونو ادا کول. دريم: په نيکو کارونو کې د مسلمانانو چارواکو ته غوږ نيول او پيروي يې کول. څلورم: يوازې له الله جل جلاله څخه د خپلو ټولو حاجتونو د پوره کولو غوښتنه او پدې وينا سره رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل غږ ټيټ کړ. او صحابه کرامو رضی الله عنهم چې په څه ورسره بيعت کړی و هغه يې عملي کړل، آن تر دې چې رواي وايي: يقينا چې ما ځينې هغه صحابه وليدل چې کله به له يو څخه قمچينه ولويده، نو له هيڅا يې سوال نه کاوه چې ورته يې راپورته کړي، بلکې خپله به پسې ښکته کېده او راښکته به يې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4176